# د کابل پوهنتون له نیوکګرو زده کړیالانو سره د مشرتابه پلاوي د غږیو لیده کاته

د اعتصاب پر څلورمه ورځ د افغانستان د ولسواکو او پرمختګپالو ګوندونو او سازمانونو د مشرتابه پلاوی غړي د ولسي جرګې په ګاونډ کې د کابل پوهنتون د زده کړیالو مورچې ته ولاړل او د لیدنې په ترځ کې یې له مدني خوځښت سره د ټلوالې پیوستون او ملاتړ پر ډاګه کړ.

د ټلوالې واریز مشر پوهاند دوکتور محمد داود راوش په خپلو خبرو اتروکې د زده کړیالانو د صنفل غوښتنو د رښتیاینې لپاره مدني او دېموکراتیکې لارې چارې یو قانوني او ولسواکي ربنته وبلله او له پاړوالو چارواکو یې وغوښتل چې د زده کړیالانو پر غوښتنو غور وکړي.

همداراز د ټلوالې ویاند دستګیرهژبر د دوکتور راوش د خبرو د پخلي په توګه د زده کړیالانو له خوا وړاندې شوې غوښتنو پر وړاندې د پازوالو ناغېړي د اوسنۍ واکمنۍ زورواکي او ناولسواکي چال چلند وباله او زیاته یې کړه، موږ د مدني او دېموکراتیکو ارزښتونو د ساتندویانو په توګه ستاسې د ځوانانو د سوله ییز او قانوني خوځښت ملاتړ کوو.

د ټلوالې د مشرتابه پلاوي دیپلوم انجنیر احمد شاهین هم په دې تړاو چې له دېموکراتیو چالچلندونو کارونګ په هېواد کې د ولسواکۍ بنسټیزوني یوازېنی اغېزمن اوزار دی، له زده کړیالانو وغوښتل چې بې له ژبتوکمیز، سیمییز او مذهبي خورمنځونو،د یوه غښتلي او سراسري

پوهنتوني غورځنګ د رغښت لپاره مټې راونغاړي او په ازادانه ډول مدني زده کړیز خوځښتونه رامنځته کاندې

په دغه لیدنه کتنه کې د زده کړیالانو دوه تنو استازو د افغانستان د ولسواکو او پرمختګپالو ګوندونو او سازمانونو د مشرتابه پلاوي څخه د مننې او خوښنې له ښرګندونې سره د ټولنیزو علومو پوهنځي له یوشمېر استادانو او مشرتابه د پوهنیز نظام کمزورۍ ته ګوته و ونیوله او له اړوندو چارواکو او پارلماني استازیو یې سروټکاوه چې تر څلورمې ورځې یې د دوی پر غوښتنو څه غور نه دی کړی!